## <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

(ژباړه)

**د ۱۴۴۵هـ.ق کال د شوال میاشتې لیدلو اعلان او د کوچني اختر مبارکي!**

**الله أکبر الله أکبر الله أکبر، لااله إلاالله الله أکبر، الله أکبر و لله الحمد!**

**بسم الله الرحمن الرحيم و الحمد لله رب العالمين و الصلاة و السلام على أفضل المرسلين سيدنا محمد و على آله و صحبه أجمعين!**

امام بخاري رحمه الله په خپل صحيح کې له محمد بن زياد څخه روايت کړی چې ویلي یې دي: اورېدلي مې چې ابو هريره رضی الله عنه ویل: رسول الله یا ابوقاسم صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلي:

**«صُومُوا لِرُؤيَتِهِ وَ أفطِرُوا لِرُؤيَتِهِ فإن غُبیَ عَلَيكُم فَعُدُّوا الثَّلاَثِين»**

**ژباړه:** *کله مو چې د رمضان میاشت ولیده، روژه ونیسئ او کله مو چې شوال میاشت ولیده، افطار وکړئ او که اسمان وریځ و (او میاشت مو ونه لیده) نو دېرش ورځې وشمېرئ (پوره یې کړئ).*

د شوال میاشتې د لیدلو له هڅو وروسته، میاشت لیدل شرعاً ثابت نه شول. نو سه شنبه إن شاء الله د رمضان میاشتې پای او چهارشنبه د شوال لومړۍ نېټه او د کوچني اختر لومړۍ ورځ ده.

حزب التحرير ټول اسلامي امت ته د کوچني اختر مبارکي وایي او له الله سبحانه و تعالی غواړي چې راتلونکی اختر په داسې حال کې راولي چې اسلامي دولت تاسيس شوی وي؛ دین ته یې قدرت ورکړی وي او رایه (بیرغ) یې رپېږي. دغه راز زه، د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر رییس، په هره برخه کې د حزب التحرير دعوتګرو خویندو او ورونو او په ځانګړي ډول جلیل القدر عالم عطاء بن خليل أبو الرشته حفظه الله ته د کوچني اختر مبارکي وایم! له الله سبحانه و تعالی څخه غواړو چې زموږ شیخ ته د نبوت پر منهج ثاني راشده خلافت په تاسيس سره د رسول الله د بشارت لپاره دعوت په دغه لار کې توفیق ورکړي.

سږ کال کوچنی اختر په داسې حال کې راځي چې د اسلامي امت او استعمارګر غرب د ارادو ترمنځ داسې ټکر دی چې ساری یې په تېرو څو لسیزو کې نه لیدل کېږي. اسلامي امت په قاطعیت نړیوالو ته ثابته کړه چې که استعمارګر او کافر غرب هر څو د بریدونو هڅې وکړي، د فلسطين مبارکه خاوره یوه اسلامي خاوره ده او هېڅ کله لاس نه ترې اخلي. نن ورځ غرب وېرېږي چې هسې نه د ۲۰۲۳م کال د اکتوبر ۷مې پېښه بیا وشي او یهودي رژیم یې له ښکاره شوي ضعف سره وګواښي. د دغه رژیم له منځه تګ د غزې او ټول فلسطين د نصرت لپاره د اسلامي پوځونو په بسیج سره د دوهمې جبهې په پرانیستل کېدو ژر راتلونکی دی. ځکه خو غرب له یهودي رژیم څخه د هر اړخيز ملاتړ لپاره خپلو بې شرمانه کړنو کې په پوره تاوتريخوالي چلند کوي؛ په غرب کې پر مسلمانانو فشار راوړي او په اسلامي خاورو کې یې د حکامو له لارې مسلمانان له ستونزو سره مخ کوي.

خو د غزې مجاهدینو او خلکو، چې غرونه غرونه صبر لري، د یهودي رژیم ژره د غزې پر مبارکه خاوره وموښله او نړیوالو ته یې ثابته کړه چې کله اسلام د خلکو پر زړونو واکمن شي، هغه خلک د اسلام او مسلمانانو په تاریخ کې ډېر لوړ ځای ته رسوي. له الله سبحانه و تعالی غواړو چې د دغو مجاهدینو اعمال قبول کړي او په اخرت کې علیین مقام ور په نصیب کړي! الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**﴿قَالَ اللّهُ هَذَا يَوْمُ يَنفَعُ الصَّادِقِينَ صِدْقُهُمْ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَداً رَّضِيَ اللّهُ عَنْهُمْ وَرَضُواْ عَنْهُ ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ* لِلّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَا فِيهِنَّ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾** [مائده: ۱۲۰-۱۱۹]

**ژباړه:** *«(د قیامت پر ورځ) الله وایي: دا هغه ورځ ده، چې رښتینو ته د دوی رښتینولي ګټه رسوي، دوی ته د جنت داسې باغونه دي، چې تر ونو لاندې یې ویالې بهېږي او تل به پکې وي، الله ترې راضي دی او دوی له الله نه راضي دي؛ دا، ستره بریا ده. د اسمانونو او ځمکې او څه چې په دوی کې دي، (ددې ټولو) واکمني یوازې د الله ده او هغه پر هر څه واکمن دی.»*

په دې موده کې نور اسلامي امت د «سایس-پیکو پولو» په نامه زندان داسې احساس کړ چې بل هیڅ وخت یې نه و کړی؛ ځکه چې اسلامي امت واحد امت دی؛ وینه او احساسات یې یو دي. نو د غزې د ښځو چغو، د ماشومانو ژړاوو او د لویانو نصرت غوښتلو په غیرت راوستل؛ خو د پولو په زندان کې لا بند دي.

د «سایس-پیکو پولو» زندان جوړولو موخه همدا وه چې مسلمانان بې وسه شي او د یو بل مرسته ونه شي کړی. نن ورځ فلسطین، پرون سوره او تر هغې وړاندې افغانستان، کشمیر او عراق او ... هر ځل د اسلامي امت پر یوه برخه برید کېږي؛ نور ملیاردي امت یې ګوري، حرکت نه شي کولی او د یو بل مرستې ته نه شي دانګلی؛ دلیل یې یوازې همدا «سایس-پیکو پولې» دي!

**اې د مسلمانانو پوځونو!**

د حکامو خیانت او کافر غرب ته د هغوی ړنده وفاداري مو لیدلې! څنګه مو د اسلامي امت له دښمنانو سره امنیتي همغږی ته اړ باسي! څنګه د دښمن پر وړاندې د بسیج کېدو امر نه درکوي! ولې مو یوازې د خپلو خاورو او خلکو له منځه وړلو لپاره بسیج کوي!؟ پر تاسو لازمه ده چې دغو خاینو او غلامو حکامو ته له وفادارۍ لاس واخلئ او همدا اوس د فلسطین مبارکې خاورې د نصرت لپاره بسیج شئ؛ که مو دغو خاینو حکامو مخه ونیوله، له مخې یې لرې کړئ! پوه شئ چې اسلامي امت له تاسو سره دی او په خپل ځان او مال ستاسو ملاتړ کوي. دغه راز، حزب التحریر خپل لاس تاسو ته اوږد کړی؛ د نبوت پر منهج ثاني راشده خلافت د تاسیس لپاره یې د الله سبحانه و تعالی په توفیق هر څه تیار کړي؛ یوازې ستاسو ملاتړ او نصرت ته اړتیا ده؛ لکه انصارو چې د اسلام د حاکمیت لپاره د بیعت پر وخت رسول الله صلی الله علیه وسلم ته نصرت ورکړی و او ملاتړ یې ترې کړی و. الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**﴿وَالَّذِينَ آمَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَاهَدُواْ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَالَّذِينَ آوَواْ وَّنَصَرُواْ أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقّاً لَّهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ﴾** [انفال: ۷۴]

**ژباړه:** *«کومو خلکو چې ایمان راوړ او د الله تعالی په لاره کې یې هجرت او جهاد وکړ او کوم خلکو چې پناه ورکړه او مرسته یې وکړه همدوی رښتیني مومنان دي. د هغو لپاره بښنه او ډېره ښه روزي ده.»*

**الله أكبر، الله أكبر، الله أكبر لااله إلاالله، الله أكبر، الله أكبر و لله الحمد!**

اختر مو مبارک شه!

السلام عليكم ورحمت الله وبرکاته!

د ۱۴۴۵هـ.ق کال د رمضان میاشتې پای چې د ۲۰۲۴م کال د اپریل له ۹مې سره سمون خوري

انجينير صلاح الدين عضاضة

د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر رييس

د صدور گڼه: ۳۱/۱۴۴۵

۱۴۴۵هـ.ق، د رمضان ۲۹مه

۲۰۲۴م. د اپريل ۹مه